## حَبلُ‌المـَتین (٦): د غرب له لیدلوري د ارامۍ او سوکالۍ په لټه کې (۱)




**د مقدمې پر ځای:**

ارامۍ او خوشالۍ ته رسېدل د بشر یوه همېشنۍ غوښتنه ده او په دې برخه کې انسانانو د تاریخ په اوږدو کې مختلفې لارې ازمویلې دي، تر څو ارامي تر لاسه کړي. ډېری کسان خوښۍ او ارامۍ ته رسېدل په پیسو، شتمنۍ، لوړو زده کړو، وظیفوي پرمختګ، په تجارت کې پرمختګ، استعداد درلودو او نورو کې ګڼي؛ خو دا ډول کسان صرف دغو بریاوو ته په رسېدو نور په ژوند کې د سوکالۍ او خوښۍ احساس نه لري.

په واقعیت کې دا څه راز دی، چې پر دې سربېره چې ساینسي، صنعتي او ټیکنالوژیکي پرمختګونو د بشر په ژوند کې بې‌ساري اسانتیاوې رامنځته کړې؛ خو د دنیا خلک له دغو ټولو امکاناتو سره په عجیبه او بې‌سارې بڼه د افسردګۍ، پرېشانۍ او روحي بحران پر لور روان دي. تر دې چې ارامتیا او سوکالي د معاصر انسان ورکه ګڼل کېږي.

د دغه بحران او اضطراب لامل څه دی او ولې خلک پر زیاتو امکاناتو سربېره خوښ نه دي؟ د دې لیکنې په لومړۍ برخه کې د ارامۍ او نېکمرغۍ په اړه د غرب پر لیدلورو بحث کوو، چې نن په نړۍ کې د یو حاکم لید په حیث شتون لري. په دویمه برخه کې پر دې بحث کوو چې ارامي او نېکمرغي له اساسه په څه پورې تړاو لري.

- **د نړۍ په کچه د نارضایتۍ واقعیت**

د نړۍ په کچه د نارضایتۍ د زیاتېدو یو خورا مهم لامل د غربي مفکورو حاکمیت دی. په دې دلیل چې غرب پرمختګ او سعادت ته رسېدل انسانانو ته د ژوند موخه تعریف کړې او سعادت د انسان د اړتیاوو او غریزو په بشپړ

پوره کېدو پورې تړلې ګڼي. غربي ژوندود ته په ځیرتیا څرګندېږي، چې غرب په یوه عجیب تضاد کې ژوند کوي، له یوه اړخه غربي مفکورې او ارزښتونه سعادت او ارامتیا ته رسېدل په پرېمانه شتمنیو، لوړ مقام او د ژوند په اسانتیاوو پورې تړلې ګڼي؛ خو برعکس خپله د غربیانو معتبرې څېړنې په ډاګه کوي، چې هر څومره چې غرب په مادي ډګر کې د پرمختګ لوړیو پوړیو ته رسېدلی، له بلې خوا د اضطراب، افسردګۍ او له ژونده د نارضایتۍ بحران زیات پراخ شوی.

پروفیسور ریچارد لایارد په خپل مشهور کتاب «**خوښي**» کې په غربي ټولنه کې د خلکو پر غمګینۍ او نه رضایت څېړنه کړې. نوموړی لیکي: «زموږ (غربیانو) په ژوند کې یو جدي تناقض شته. ډېری کسان په ژوند کې زیات عاید او امکانات غواړي او د لاسته راوړو لپاره یې کار کوي. پر دې سربېره چې په غرب کې خلک ورځ په ورځ د امکاناتو او اسانتیاوو له نظره سوکاله کېږي؛ خو د خوښۍ او رضایت کچه یې برعکس مخ په ټیټېدو ده.» نوموړی استدلال کوي، چې دا مسئله نوره یوه معما نه ده.

ده د خپلې څېړنې د اثبات لپاره د دریو هېوادونو د هر وګړي پر عاید څېړنه کړې او عجیبې پایلې یې موندلې دي. په وروستۍ نیمه پېړۍ کې له ۱۹۵۰م وروسته د انګلیس، امریکا او جاپان د خلکو عاید درې برابره زیات شوی او ژوند یې ښه شوی. د ژوند معیارونه او اسانتیاوې یې څو برابره شوې، تر پخوا ستر کورونه لري او پرمختللې ټیکنالوژۍ راحت ژوند ورته چمتو کړی. دوی لوکس او ګرانبیه وسایل پېري. خو د څېړنو پایلې ښیي چې د ژوند د امکاناتو پر څو برابره کېدو سربېره د خلکو په خوښۍ کې ډېر کم زیاتوالی راغلی او د لاسته راغلو امکاناتو او شتو له ودې سره هېڅ د پرتلې وړ نه دی. یا په بله وینا دا د سوکالۍ امکانات او د ژوند اسانتیاوې د دغو هېوادونو د خلکو د ارامۍ او نېکمرغۍ احساس د زیاتېدو لامل نه دي شوې.

د دې تر څنګ هغه مختلفې څېړنې، چې د نړۍ د هغو هېوادونو د خوښۍ د کچې په اړه شوې، چې د ژوند د معیارونو، د وګړو د عاید او شتمنۍ متفاوته کچه لري، ښیي چې د شتمنو هېوادونو د خوښۍ کچه تر بېوزلو هغو کمه ده او په ژوند کې زیاتې اندیښنې او پرېشانۍ تجربه کوي.

پاتې دې نه وي چې هغه کلیدي ځانګړنې، چې د خوښۍ یا نه خوښۍ د ښودلو لپاره یې غربي څېړونکي کاروي، ټولې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په چټکۍ زیاتې شوې دي. دا ځانګړنې دغه دي: افسردګي، جرم، جنایت او پر الکولو روږدي کېدل.

د بېلګې په توګه: په امریکا کې ٪۱۵ خلک په ۳۵ کلنۍ کې بالیني (بستري) افسردګي تجربه کوي. حال دا چې دا شمېره په ۱۹۶۰م کې ٪۲ وه. په امریکااو اروپایي هېوادونو کې پر الکولو د روږدي کېدو له امله مېړنه د ۱۹۵۰م کال دوه برابره شوې. د کورنیو ګواښونه او تیت وپرک او پاشل شوې کورنۍ، چې ماشومان یې بې سرپرسته

پرېښي، زياتې شوې او اوس کابو نيمايي امريکايان له ۱۵ کلنۍ وروسته له خپلو اصلي پلرونو سره ژوند نه کوي.
په ۱۹۵۵م کې طلاق تر ډېره غير معمول و، خو اوس په چټکۍ زيات شوی.

د دې تر څنګ په ۱۹۵۰- ۱۹۸۰م کلونو کې د جرم او جنايت کچه په منځني ډول په ټولو غربي هېوادونو کې په سلو کې ۳۰۰ زياته شوې. همدارنګه دا د شنونکو په نظرياتو کې يو جدي تضاد دی، چې د بېکارۍ په له منځه وړلو او د شتمنۍ په زياتولو په ټولنه کې جرم او جنايت کمېږي. که څه هم تر يوه ځايه د بېکارۍ له منځه وړل د جرم وجنايت د کمښت لامل کېږي؛ خو د جرم و جنايت د کمښت اساسي حل‌لاره نه ده.

دغه تضاد غرب ژور ګډوډ کړی، له يوې خوا ادعا کوي، چې د يوې خوښې ټولنې لپاره بايد د شتمنۍ تر لاسه کولو، اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره پام وشي، په داسې حال کې چې د غرب نفوس په زياتېدونکې توګه د پرېشانۍ، ګډوډۍ، افسردګۍ او ځانوژنې د کچې لوړېدو پر لور روان دی. غرب په بيا بيا له ځانه پوښتي، چې د ددې ناخوښۍ او نا‌ارامۍ لامل څه دی او دا ناوړه حالت بايد څه ډول سم کړل شي؟ ايا د اقتصادي ودې لپاره دا نامتجانس تمرکز د بريا د معيار په توګه د توجيه وړ دی يا دا چې ناڅاپي پايلې يې رامنځته کړې؟ البته غربي متفکرين دغو پوښتنو ته قانع کوونکي ځوابونه نه لري.

- **د نارضايتۍ عوامل د څېړنو له سترګيو**

څېړونکي ځينې عواملو او رفتارونو ته اشاره کوي، چې په غرب کې د خلکو د ژورې نارضايتۍ لامل شوي:

**لومړي- اقتصادي او ټولنيزې سيالۍ:** د څېړنو يوه خورا مهمه موندنه ښيي، چې له اطرافيانو سره د ټولنيز او اقتصادي وضعيت پرتله د ژورې ناخوښۍ او غمګينۍ لامل کېږي. يو وګړی ممکن پر پرېمانه شتمنۍ سربېره د برياليتوب او خوښۍ کم احساس وکړي، دليل يې ډېر ساده دی، ځکه نوموړی د خپلو سيالانو او همرديفانو په اندازه شتمني نه لري.

اروا‌پوهانو په خپله يوه جالبه څېړنه کې د هاروارد پوهنتون محصلين پوښتلي، چې کوم غوره دی: ۵۰ زره ډالره کلنۍ عايد په داسې شرايطو کې چې نور کسان ۲۵ زره ډالره کلنۍ عايد لري که ۱۰۰ زره ډالره کلنۍ عايد په داسې شرايطو کې چې نور کسان ۲۵۰ زره ډالره کلنۍ عايد لري؟ زياترو محصلينو لومړی ګزينه انتخاب کړې او دا يې غوره بللې چې کم عايد ولري په دې شرط چې د نورو او شاوخوا کسانو تر عايد زيات وي.

په حقيقت کې اقتصادي او ټولنيز رقابت د پرمختللي غربي ژوند په زړه کې ځای لري. دا رقابت او ځان له نورو سره پرتله کول د زياتو انسانانو د ناراحتۍ او افسردګۍ لامل کېږي. همدارنګه په دې اړه ځينې غربي مفکرين په دې نظر دي، چې يو څه اندازه اقتصادي نابرابري، په يوه کچه د ژوند کولو لپاره د وګړو د حسادت او هڅې روحيه ساتل معقول او اړين کار دی؛ ځکه د حسادت، حرص او بخل روحيه په تېره بيا د اقتصادي فعاليتونو د ودې لپاره اړين ګڼل کېږي.

**دویم- د شتمنۍ د راټولولو څرخ:** هغه کسان چې خپله خوښي يې د مادياتو پر اساس درولې، ښايي په يوه ټاکلې اندازه شتمنۍ لاسته راوړو د خوښۍ او ارامۍ احساس وکړي؛ خو دا احساس ژر له منځه ځي. د دغه احساس له منځه تلل وګړی بيا تحريکوي، چې د خوښۍ احساس د لاسته راوړو لپاره بيا د شتمنۍ د لاسته راوړو لپاره هڅه وکړي او دا پروسه بيا بيا تکرارېږي.

څېړنو ښودلې چې شتمني او مالکيت بايد ډېر غوره او ښه شي، تر څو د رضايت او نېمګرغۍ احساس تامين کړي. دا پروسه او حالت په روښانه د خوښۍ حس نه تضمينوي، بلکې يوازې وګړی د شتمنۍ د ترلاسي لپاره په يوه دايمي مسابقه کې کې اچوي.

د شتمنۍ د راټولولو دغه سيستم د دې لامل شوی، چې خلک ډېر سخت او اوږدمهال کار وکړي، تر څو زيات عايد لاسته راوړي؛ خو ډېر کم رضايت لري. د شتمنۍ او زياتو امکاناتو د لاسته راوړو لپاره د پرمختللي کار ځواک خپله کورنۍ، روغتيا او ژوند په خطر کې اچولی او حتی د وزګارۍ په وختو کې هم په کار بوخت وي. حال دا چې څېړنې ښيي چې شتمني او امکانات په انسان کې يوازې د ۱۰٪ خوښۍ لامل کېږي. په دې معنی چې په ژوند کې هر ډول امکاناتو، امتياز، مقام، اسانتياوو او شتمنۍ ته رسېدل د يوه وګړي د يوازې ۱۰٪ خوښۍ لامل کېږي.

دا د ځينو څېړنو پايلې وې، چې په ډاګه کوي چې په ژوند کې د ناخوښۍ اصلي رېښه يو لړ پوچ افکار او ارزښتونه دي، چې د دغه حالت لامل شوي دي. له دې امله مادي ګټو ته ترجيح ورکول، شخصي ګټې تر لاسه کول او د وګړپالنې ظهور د داسې يوې ټولنې لامل شوی، چې په زياتېدونکې توګه د ځانغوښتنې، مادهپالنې او اقتصادي ټولنيزو سياليو پر لور روانه ده.

د ډېرې بدمرغۍ او شرم ځای دی، چې ځينې د غربي ارزښتونو مقلدين، د ديموکراسۍ او ازاد بازار نوي شاګردان غواړي، چې د افغانستان په خلکو کې د دغو ارزښتونو په بنسټي کولو او واردولو خوښي او رضايت زموږ له خلکو لوټ کړي او په بدل کې يې خلک اضطراب او روحي اندېښنو ته ورټېل وهي. حال دا چې دا غير انساني مفکورې په يوه ټولنه کې د بېباورۍ او بدګومانۍ لامل کېږي او هغه له داخله ورستوي. په حقيقت کې د ديموکراسۍ او پانګوالۍ مفکورې داسې ښاماران دي، چې غرب او ټول جهان ژوندی تېروي. نو پر موږ لازمه ده، تر څو دا ښامار پرېنږدو چې خوله وشکوي او په زهرجنو ارزښتونو يې نړۍ هلاکه کړي.

﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ﴾

[طه:۱۲۴]

*هر څوک چې زما له ياده مخ واړوي (او د اسماني کتابونو له احکامو لرې شي)، (په دنيا کې به) تنګ او سخت ژوند ولري او د قيامت پر ورځ به يې ړوند حشر کړو.*

مصدق سهاک

د حزب‌التحریر ـ ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر غړی